



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ارنستو چه گوارا**

م. بنیامین

ژباړه: فرهاد ویاړ

خپرندویه: سیند

وبلاګ:ketabtoon.blogspot.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ارنستو چه ګوارا

م. بنیامین
ژباړه: فرهاد ویاړ



د لاتینې امریکا
ټول ماشومان
ارنستو چه ګوارا
پیژني.

هغه سړی
چې د لاتینې امریکا
ټول ماشومان یې
پیژندل.

خو هغه څوک و؟
څه یې کول؟
او څه یې ویل؟
چې دومره ماشومانو ته
ګران و،
خو مشران یې د وینې تږي وو،
هغه مشران چې د ماشومان بیوزلي
د هغوې د افسانوي ثروت نتیجه وه.


(c) ketabton.com: The Digital Library

ارنستو چه ګوارا يو ډاکټر وو،
هغه ډاکټر چې خلك ورته ګران ول،
او شپه او ورځ به يې،
بی له پيسو نه
په خپل کلينك کې
د ناروغانو درملنه کوله.
هغه باور درلود
چې له دې لارې خپل هيواد ارجنټاين
او خپلو بيوزلو هيوادوالو ته خدمت کوي،
او هيله من وو چې،
په دې ډول خدمت سره،
کولای شي د ناروغيو جرړې وچې کړي،
او نور خپل شاوخوا
هيڅوك ناروغ و نه ويني.
خو، هر څومره چې به يې درملنه کوله،
هر څومره چې به يې ګولی او شربت او ستنې ورکولی،
بيا به هره ورځ
ناروغان ډيريدل،
او د مړينې کچه زياتيدله.



(c) ketabton.com: The Digital Library

چه ګوارا تل فکر کاوه،
چې داسې لاره پیدا کړي،
داسې یوه لاره چې
میلیونونه ولسي پرګني



د بیوزلی او بدمرغی څخه وژغوري.
فکر یې وکړ...هو،و فکر یې وکړ
او بالاخره دې نتیجې ته ورسید،
چې د خلکو دردونه د درملو سره نه رغول کیږي،
د دې دردونو جرړې په ماشومانو کې نه دي،
په مشرانو کې نه دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټولنه کې دي،
په هغې ټولنه کې چې هغه
او مليونونه نور کسان په کې ژوند کوي،
او ستونزې ګالي.
بالاخره کوم درمل،
کوم شربت،
کومه پيچکارۍ او ستنه،
د ولږې درملنه کولی شي؟
د بدوخواړو درملنه کولی شي؟؟
او نيستئ له منځه وړلی شي؟؟؟
بی له شکه چې داسې درمل شته،
خو نه دا مُسکن درمل.
چه ګوارا تل ًپه فکر کې وو:
بايد يو ګټور درمل پيدا کړو.
بايد يو ګټور درمل پيدا کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا په کلینیک کې ناست ډاکټر،
بالاخره، د خپلې کوچنۍ کوټې راووت.
د کتابونو یوه غوټه یې غاړې ته واچوله،
چموسې یې په پښو کړې
او د لوي روغتون لاره یې ونیوله،
چې ډېر لوی و،
ډېر نامحدوده و،
داسې روغتون چې دیوال او برید یې نه درلود
او ټوله لاتینه امریکا په کې شامله وه
چه ګوارا، له دې ښاره هغه ښار ته،
له دې کلي هغه کلي ته تللو
د یوه سره یې خبرې کولې
د بل سره یې کیسې کولې
په ساعتونو د سورپوټکو په جونګړو کې کښیناستو،
او د ورانو ماشومانو سره یې
ټوکې ټکالې کولې
بالاخره په همدې سفرونو کې،
دومره یې د ناروغانو نبض ونیو
چې واقعي ناروغي یې پیدا کړه
داسې ناروغي چې درملنه یې هم دومره آسانه نه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library


او ډېر کوښښ او هلوځلو ته یې اړتیا درلوده.
چه ګوارا دې نتیجې ته ورسید:
چې دا ټولې ناروغۍ له یوې ناروغتیا رامنځته کیږي
هغه ناروغتیا چې د شینې په شان
د هر یوه وینه ځکي،
او په زرګونو نورو ناروغیو یې
اخته کوي.



هغه ناروغي چې نوم یې "پانګوالي" ده،
او میکروب یې هم
پانګوال دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه یو، نه هم دوه
بلکې سلګونه، زرګونه
چې ډېرکی یې د شمالي امریکا میشته ول
هماغه پانګوالان چې
د امریکا امپریالیزم
رهبري کوي
او د خپلو لاسپوڅو په مرسته،




د دې ټاټوبي ټول ثروت لوټي،
په داسې حال کې چې د دې ټاټوبی خلک
په خپله، د شته ګنجونو سره سره
له نیستۍ او بېوزلۍ مړه کیدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه ګوارا دې نتيجې ته ورسيد
چې د ناروغۍ له منځه وړلو لپاره
ښايي ميکروب نابود کړو.
د پانګوالۍ له منځه وړلو لپاره
ښايي پانګوال له منځه ويسو
په همدې فکر سره، لاس په کار شو
ناروغۍ يې موندلې وه: پانګوالي!
ميکروب يې موندلی و: پانګوال!
خو درمل؟
آيا د شربت سره يې کولاې شول دا ميکروب نابود کړي؟
آيا د پيچکارۍ او ستنې سره يې کولای شول؟؟
آيا د ګولۍ سره يې کولاې شول؟؟؟
چه ګوارا، شپه او ورځ په همدې فکرونو کې وو
نه، پورتني شيان يو يې هم ګټور نه ول
دلته نوره درملنه په کار نه راځي
دلته ښايي مبارزه وکړو
د دښمن په ضد مبارزه
هغه دښمن چې غل وو
او په زور او چال او دوکې سره يې
د مليونونو وګړو ثروت لوټو،
هغه دښمن چې نه يې په کوچني او نه يې هم په مشر رحم نه کاوه
هره مخالفه نغمه يې د مردکيو سره ځوابوله
او مبارزان يې وژل.
هغه دښمن چې تر ستونې پورې په وسلو سمبال وو





(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

نو، پر دې دښمن د بریا لپاره
باید وسله واله جګړه پیل شي
او د مردکي ځواب په مردکي ورکړل شي.
همدا وو چې یوځل بیا چه ګوارا حرکت پیل کړه
غوټه یې پر اوږه
چموسې یې په پښو
او ټوپک په لاس.
ښار په ښار،
کلی په کلی،
هیواد په هیواد،
د خپلې عقیدې لپاره یې تبلیغ پیل کړ
او خلکو ته یې توضیح ورکوله
چې دښمن ډیر زیات بیرحمه دی
دښمن په خبرو نه پوهیږي
باید د زور ځواب په زور ورکړل شي
او که لاس تر زنې لاندې کښینو
هیڅ هم نشو کولای.



(c) ketabton.com: The Digital Library

چه ګوارا، نور غښتلی وو:
نه له لارې ډاریده، نه هم له ګړنګونو،
نه له ولړې یې زونګ زونګ کاوه، نه له تندې،
کولاې شول، ورځې ورځې، بې له دمې مزل وکړي،
او له غره، ځنګله او سیند څخه تیر شي.
کولاې شول، اونۍ اونۍ، د ډوډۍ په ځای
پوستکي وخوري،
او تنده یوازې د باران په څاڅکیو ماته کړي.
نور، نو ورته
له بریا پرته بل شئي اهمیت نه درلود
په هغه دښمن بریا چې نوی یې پیدا کړی وو.
په دې سفرونو کې یې
یوه ورځ د داسې یو بل سړي سره ولیدل
چې هغه هم د دیکتاتورانو له منګولو څخه
چې د امریکا نوکران ول، د خپل هیواد د آزادۍ لپاره نقشه ایستله.
د دې سړي نوم فیډل و،
فیډل کاسترو.
کاسترو هم عقیده لرله:
د هغه دښمن په وړاندې چې تر ګوګله پورې په وسلو سمبال دی،
باید وسله واله جګړه وکړو.
چه ګوارا او کاسترو سره متحد شول،
او ورځ تر بلې
زیات کسان له هغوې سره یوځای کیدل



(c) ketabton.com: The Digital Library

دوې د اوږدې مودې لپاره مبارزه وکړه
تر دې چې د کوبا انقلاب يې بريا ته ورساوه
د امريکا نوکران يې وويستل،
او حکومت يې د کوبا خلکو ته وسپارو
فيډل په کوبا کې پاتې شوو،



(c) ketabton.com: The Digital Library

خو، چه ګوارا...
چه ګوارا، یوازې په یوه هیواد کې په انقلاب قانع نه وو.
هغه غوښتل نور هیوادونه هم د کوبا په شان آزاد وي
هغه غوښتل چې هر هیواد دې د آزادي غوښتوونکو لخوا اداره شي
هغه غوښتل داسې یو کار وکړي
چې نور هیڅ یو ماشوم له بیوزلۍ او ناروغۍ
د خپلې مور په غیږه کې مړ نشي
او ژوند د ټولو لپاره یو شان وي
نو، له همدې لپاره په کوبا کې ډیره موده پاتې نشوو
او بیا یې، غوټه په اوږه
چموسې په پښو
او ټوپک په لاس،
د نورو ټاټوبو لاره یې ونیوله
چې د انقلاب اور په نورو ټاټوبو کې هم بل کړي.
چه ګوارا هر چیرې چې تلو
د کوبا د انقلاب په اړه غږیده،
د امریکا د هغه نوکرانو په اړه غږیده
چې د هغوې له بریا وروسته یې
خپلې لکۍ، شا ته راغونډې
او د موږکانو په شان به تښتیدل
چا چې له امریکایانو څخه کړیدلي زړونه درلودل
د زړه له کومې به خندیدل،
او د چه ګوارا خبرو ته به یې غوږ ایښودو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې هيله چې هغوې هم وکړای شي خپل هيواد آزاد کړي.
چه ګوارا د انقلاب په قاصد بدل شوی وو
او ورځ تر بلې يې زيات ملګري او همرزمان پيدا کول،
او کوچنيان
د هغه لومړني او مينه ناکه هرکلي ويونکي ول
هغوې آرزو درلودله چې کاش لويان وی!
او ټوپک يې اوږې ته اچولې،
او د چه ګوارا سره اوږه په اوږه،
په غرونو او ځنګلونو کې
د خپلو دښمنانو په وړاندې جنګيدلی.



×

د انقلاب قاصد چې به چيرې پښه ايښوده
د انقلاب اور به لمبې وهلې،
او د مفتخورو لمنې به يې سوځولی
د هغه د پښې غږ،
د آزادۍ غږ وو،
د استقامت غږ وو،
د ولسونو د غليمانو په وړاندې د مبارزې غږ وو:
ولسمشرانو،
جنرالانو،
کشيشانو،


(c) ketabton.com: The Digital Library

بانکوالانو،
او د اکا سام لاسپوڅی ډلې
د هغه د نوم په اوریدلو سره
ځانونه بایلل
او د هغه د مرګ هیله یې کوله
خو، نور نه مردکي څه کولای شول،
نه زندان،
نه توپ او نه ټانك کومه اغیزه درلوده،
او نه هم جلا وطنی.
نه د کشیشانو موعظې هغه اغفالولی شوو
او نه د جنرالانو ګواښنې.
له ونزوئلا څخه تر ارجنټاین پورې
له اکوادور څخه تر سالوادور پورې
هر چیرې او په ټولو ځایونو کې
یوازینې غږ، د چه ګوارا غږ وو
او د هغه په لاره تلل.
خو دښمنان هم بیغمه نه کښینستل
شپه او ورځ یې نقشې ایستلې
چې دا هسك پروازه عقاب له پښو وغورځوي
ځکه چې د هغه په شتون کې
دوې هیڅکله هوسا خوب نشو کولای
او ډیر ژر
د غلا او لوټ لارې یې تړل کیدې
او پانګې یې په خطر کې ولیدلې



(c) ketabton.com: The Digital Library

خلك ورو ورو پوهیدل،
او دې پایلې ته رسیدل چې کولای شي،
خپل او د هیواد برخلیک د یوې موټې پردو، مفتخوارو او احمقانو په ځای
په خپلو لاسونو کې ولري
او همدا وو چې دښمنان
ـ چې د ټولو مشره یې امریکا وه ـ
سره متحد شول



(c) ketabton.com: The Digital Library


ځواکونه یې راغونډ کړل
او د لاتینې امریکا د ولس مینه ناکه او مبارز ملګری
د ۱۹۶۷ کال د اکتوبر پر نهمه
په یوه نابرابره غلچکي جګړه کې،
د بولیویا په سویل ختیځ کې
له پښو وغورځو.



دښمنانو د آرامۍ ساه وویستله
او دوستانو له خپلو ځانونو نه
پوښتل،
آیا چه ګوارا په رښتیا مړ شوی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو سباني څرک وښوده چې
نه،
اتلان هيڅکله نه مري.



(c) ketabton.com: The Digital Library


″سیند خپرندویه″ خپاره کړي دي:

۱. د کمونیزم اصول، فریدریش انګلس، ژباړه – فرهاد ویاړ
۲. دیالکتیک ماتریالیزم د ځوانانو لپاره، رضا قرباني، ژباړه – مرینه سحر
۳. د یوه شاعر اندیښنې، احمد شاملو، ژباړه – فرهاد ویاړ
۴. یو شعر چې کرکه ده، پاڅون دی او انتقام، سپیڅلی
۵. مور مې ښکلې نشوه، رضا فرمند، ژباړه – فرهاد ویاړ
۶. مارکسیزم او رفورمیزم، و.ا. لنین، ژباړه – هاشم سهار
۷. لیوهولان- یو ستر ژوند! یوه پرتمینه مړینه!، ژباړه – فرهاد ویاړ
۸. د شناخت په اړه یو څو خبرې، صمد بهرنګي، ژباړه- ځرک

خپرېږي:

## ویکتور خارا، د انقلاب سندرغاړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**